**مطبوعاتي اعلامیه**

**شل کلن اشغال، چې ډنمارکي سیاسیون هم پکې ښکېل وو، افغانستان په یوه ویجاړ حالت کې پرېښود!**

له شل کلن اشغال وروسته، غربي دښمنو هېوادونو او له دې ډلې ډنمارک هم له افغانستان څخه پښې سپکې کړې. په شلو کلونو کې غربي هېوادونو سلګونه زره ماشومان، ښځې او بې ګناه خلک ووژل، هېواد یې بمبارد او ویجاړ کړ. دغه جنګ د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې او د افغانستان د خلکو، په ځانګړې ډول د ښځو د ژغورلو تر عنوان لاندې پر مخ وړل کېده.

په دغه اشغال کې ډنمارک د امریکا په خدمت کې و، د مخدره توکو او جنګ سالارانو له مفسدو اربابانو سره یې همکاري وکړه، د شکنجې لپاره یې زندانونه جوړ کړل او له تاوتریخوالي څخه په ډکو جنګي جنایتونو کې ښکېل شول. شل کلنه جګړه د افغانستان د خلکو لپاره یو اوږد کابوس (خپسکه؛ په خوب کې وېره او د تنفس بندېدل) و او دغه هېواد یې په تاریخي اړو دوړ کې پرېښود. د ۲۰۰۱م، له صلیبي جکړې مخکې طالبانو په ټول هېواد کې امنیت راوستی و.

دا ستونزمنه ده چې په افغانستان کې د ډنمارک مشارکت د ډنمارکي سیاسیونو له انتخاب وړاندې د امریکا په جګړه کې د ډنمارکي ځوانو نارینه او ښځینه وو ښکېلېدل وکتل شي. حقیقت دا دی چې د ډنمارک دغه ګډون مرګ، ویجاړۍ او دولتي ترهګرۍ پر ځای پاتې پرېښودې!

په دې سره، د ډنمارکي سیاسیونو په منځ کې د څارنې وړ ځان ازمویل نشته، خو د متکبرانه اصرار پر ځای له ښځو سره د طالبانو چلن، په جګړه کې د ګډون توجیه کېدای شي، کله چې له کېنهاګن څخه اړیکه ونیول شوه، په واشنګټن کې ټلیفون پورته شو!

همدارنګه د ډنمارکي رسنیو په منځ کې چې په تېرو شلو کلونو کې یې د سیاسیونو د مایکروفون د حامل په توګه عمل کړی، ځان ازمویل نشته. ډنمارکي تش په نوم ازادې رسنۍ پر هغه څه سترګې پټوي چې ډنمارک د وحشیانه اشغال د یوې برخې په توګه په ډله ییزه وژنه کې ښکېل و او پر ځای یې له ډنمارکي سرتېرو څخه داسې یادونه کړې، چې ګواکي دوی د افغان مېرمنو د ژوند ژغورلو لپاره هلته لېږل شوې دي.

په دې سره، په افغانستان کې د ښځو په اړه د ډنمارکي سیاسیونو اندېښنه نه یوازې یو پوچ عمل دی، بلکې یو کلتوري استکبار هم بلل کېدای شي. دا په داسې حال کې رابرسېره کېږي، چې د ډنمارک په اساسي قانون کې د ښځو ازادي محدوده ده او پر وړاندې یې له تاو تریخوالي کار اخیستل کېږي!

د افغانستان په اشغال کې د ډنمارک ګډون یو تاریخي تور ټکی دی، چې له مسوولیت څخه د اوږو خالي کولو لپاره یې خپلې پښې سپکې کړې او پر موضوع د بیا تمرکز لپاره چې اوس یې موږ د ډنمارک دولت او سیاسیونو له لوري شاهدان یو، ډېر نه دی ښودل شوی.

سیاسیون د تاریخي تېروتنې او ماتې منلو پر ځای وایي، چې موږ بې‌ځایه هېواد نه دی بمبارد کړی او سرتېري مو بې‌ځایه نه دي وژل شوي، چې په دې سره خپل ځان دوکه کوي.

په همدې توګه، تاریخ په دغه صلیبي جګړه کې ټول ښکېل لاسونه د جنایتکارانو په توګه محکوموي او د عمومي تعقیب او شدیدو مجازاتو مستحق یې بولي، ځکه چې په ډله ییزه توګه یې خلک، ښځې او افغان ماشومان وژلي دي.

**د حزب التحریر- ډنمارک مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د محرم ۹مه**

**۲۰۲۱م، د اګیست ۱۷مه**

**د صدور ګڼه: ۰۲ / ۱۴۴۲**

**#Afganistan**

**#افغانستان**